ورځپاڼه

هېواد

اسلامي امارت د ولسي شاعر مطيع الله تراب پر مړينه خواشيني څرګنده کړه

د اسلامي امارت ويانـد مولوي ذبيح‌اللـه مجاهد د ولسي شـاعر مطيع‌اللـه تـراب پـر مړينـه خواشـيني څرګنـده کـړې او نوموړي ته يــې د جنت‌الفردوس او کورنــۍ او خپلوانــو ته يې د جميـل صبر غوښــتنه کــړې ده. ښاغلي مجاهد پر خپله ايکس‌پاڼه ليــکلي: «د مطيع الله تراب وفات سـخت متاثره کړو.» له بل لوري حافظ انس حقاني مطيع‌الله تراب هغه ولسي شـاعر ګڼلی، چې «د ټولنــې په متن کې و او شــعر يې د ولس د شــعور، وجـدان، هيلو او قضـاوت لوړ غږ و.» ښـاغلي حقاني زياته کــړې: ((که څه هم مرګ د نــوي ژوند اغاز دی، خو د ځينو کســانو وفــات د ژونديو بنيادمانو په نړۍ کې تشه رامنځته کــوي.)) د کابل امنيې قوماندانۍ وياند خالد ځدراڼ هم د مطيع‌الله تراب پر مړينه خواشيني څرګنده کړې او ويلي يې دي: ((انســان له خاورې دی او بېرتــه خاورې ته ورګرځي، خو داسې شخصيتونه چې د قلم، ژبــې او فکر له لارې يې ولس ته هــوښ، مينه، غيرت او بېداري ورکړې وي، هغوی نه مري، هغــوی د خلکو په زړونو کې ژوند کوي.)) نوموړي زياته کړې: ((د تراب صاحب شاعري د ولس غــږ و، د دردونو انځور و او د حق ويلو توره. د هغه ياد به تلپاتې وي.)) د مطيع‌الله تراب په ناڅاپي مړينه ګڼ شــمېر اديبانو، شاعرانو او د ټولنيزو ... ۳مخ

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسيس کال ۱۳۲۸ لمريز

چهار شنبه د محرم الحرام ۲۰ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۲۵ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۶ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۹۲ يمه، پرله‌پسې ګڼه ۷۵۵مه، اتمه دوره

مولوي عبدالسلام حنفي:

نړېوال بنسټونه دې د کډوالو د حقونو په تأمين کې خپل مسئوليتونه ادا کړي

د اسـلامي امـارت د رياسـت الوزراء اداري مرسـتيال مولوي عبدالسـلام حنفـي وړمه ورځ له غرمي وروسـته د افغانستان لپـاره د ملګرو ملتونو سـازمان د سرمنشي له ځانګړي اسـتازي روزا اوتانبايوا او مل پلاوي سره وکتل.

ارګ په يوه خبرپاڼه کې ليکلي، چې په دې کتنه کې مېرمن روزا اوتانبايوا د راستنو شويو کډوالو د موضــوع پــه مديريت کې د افغانســتان د اسـلامي امارت د مســئولينو د فعاليتونو او کړنو د ستاينې ترڅنګ ويلي ... ۳مخ

سمنګان؛ راستنو شويو کورنيو ته ۱۲۰ سرپناوې جوړې شوې

د سمنګانو ځايي مسئولين وايي، چې د ياد ولايت په مرکز ايبکو او دره صــوف ولســوالۍ کې د

بې ځايه شويو او راستنو شويو کډوالو لپاره ۱۲۰ نوې سرپناوې جــوړې شــوې دي. د ملګــرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (يــو. ان. اچ. سي. آر) پــه مالي ملاتــړ او د ســمنګانو ولايــت د کډوالــو چــارو رياســت په همــکارۍ، د ۴۲ ميليونو افغانيو په لګښت ۱۲۰ معياري سرپناوې د ايبکو ښار او کوز دره صوف ولسوالۍ اړوند د بې ځايه شويو او راســتنو شــويو کډوالو لپاره جوړې شــوې دي. د ياد رياست د کډوالــو آمر قاري محمد خالد خاکسار باختراطلاعاتي آژانس ته وويل چې دغــه پروژه د ولايت مقــام او د اقتصــاد رياســت په همغږۍ، د (اي. سي. اچ. آر. او) موسسې له خوا د يو کال په موده کې پلې شــوې او ګټې اخيستنې ته سپارل شــوې ده. د ده په وينا د دغــو سرپناوو لــه ډلې څخه ۶۰ يــې د ايبکو پــه تيځونک، رســتم اباد، ميرکلال، ايينه چه، رباتک، پل شيرين، حسن‌خېل، اکاخيل، لرغان، کارته دره‌صوف او صوفی قله کې رغول شوي او پاتې ۶۰ نورې يې په تلخ، تنګي يعقوب، جمالک ... ۳مخ

د برښنا شرکت او صدف انرژۍ شرکت ترمنځ هوکړه وشوه

د افغانســتان برښــنا شرکت او د قرغيزستان – ازبيکســتان اړوند صــدف انرژۍ شرکــت ترمنځ د برښنا د توليد او ظرفيت لوړولو په برخو کې د پانګونې هوکړه ليک



لاسليک شوی دی.

د افغانستان برښنا شرکت په خپره شــوې خبرپاڼه کې راغلي دي: ((د افغانستان برښــنا شرکت عمومي اجرائيوي رئيس ډاکټر عبدالباري عمر د قرغيزســتان او ازبيکستان هېوادونو د ګډو پانګوالو صدف انرژۍ کمپنۍ له مسئول علي شېر سره د برښنا د توليد ... ۳مخ

سهيل شاهين د جرمني له شارژدافير سره د افغان کډوالو په اړه غږېدلی

په دوحه کې د اسلامي امارت سياسي استازي، سهيل شاهين د جرمني ســفارت له شارژدافير سره د دوه اړخيــزو اړيکــو، له ايــران او پاکســتان څخــه د راستنېدونکو کډوالو د وضعيت، قونسلګرۍ خدماتــو او بشري مرســتو په اړه خــبرې کــړې دي. محمد ســهيل شــاهين د افغانستان لپاره د جرمني ســفارت شــارژدافير، رولف ديتر دينهارد سره کتلي او دواړو لوريو پر بېلابېلو مسايلو بحثونه کړي دي. د دې کتنــې موخه د افغــان کډوالو د وضعيــت بياکتنــه، دوه اړخيزه همکارۍ ښه کول او په جرمني کې د افغان اتباعو قونسلګرۍ چارو ته رسېدنه ښودل شوې ده. په دې کتنه کې دواړو خــواوو په جرمني کې مېشــتو افغانانو ته د قونســلګرۍ خدماتــو د وړاندې کولــو په اړه بحث کړی، هغــه خدمات چې د افغان کډوالــو د ورځنيو او قانوني اړتيــاوو د پوره کولــو لپاره حياتي دي.د يادونــې وړ ده، د هغو کډوالــو لپاره چې په دې وروســتيو کې له ايران او پاکســتان څخــه هېواد ته راســتانه شــوي، د آلمان د بشري مرســتو زياتوالی د بحثونــو يوه بلــه برخه وه. پــه کتنــه کــې پر دې مسايلو سربېره د روغتيايي ســکتور حالت، د راســتنېدونکو کډوالــو بېړنۍ اړتياوې او د دواړو هېوادونو ترمنــځ د متقابلو اړيکو پر پياوړتيا هم بحث شوی دی. دا په داســې حال کې ده چې له تېرو څو اوونيوراهيســې لــه ګاونډيو هېوادونو د افغان کډوالو راستنېدل په کمسارې توګه زيات شوي دي.

د کانونو او پټروليم وزارت:

سږکال د پنجشېر ۱۸زره قيراطه زمرد پلورل شوي

د کانونو او پټروليم وزارت وايي، چې د روان کال له پيله تر اوســه، د پنځــو دورو داوطلبيــو په ترڅ کې د پنجشېر ۱۸ زره قيراطه زمرد پلــورل شــوي دي. وزارت د دغو زمردو ټول ارزښــت ۱.۱ ميليونه ډالره ښودلی او زياته کړې يې ده، چې د دې قيمتي ډبرو د پلور بهير په شــفاف ډول ترسره شوی دی. د کانونو او پټروليم ... ۳مخ

ټېره اوونۍ د وسپنې پټلۍ له لارې ۷۷ زره مټريک ټنه انتقالات شوي

د ټولګټو چــارو وزارت وايي: د چنګاښ مياشــتې له ۱۳مې تر ۱۹مې نېټې پــورې د دې وزارت د وسپنې پټلۍ له لارې۷۷ زره او ۲۹ مټريک ټنه انتقالات شــوي دي. يــاد وزارت زياته کړې: د حيرتــان بندر لــه لارې ۵۸ زره ۸۵۰ ټنه، د اقينــې بندر له لارې ۶ زره او ۷۶۵ ټنه، د تورغونډۍ بنــدر له لارې پنځه زره او ۴۳۸ ټنــه او د خواف-هرات له لارې پنځــه زره او ۹۹۶ ټنــه، چــې ټولټــال ۷۷ زره او ۲۹ ټنه نفتي، غير نفتي او نور مواد دي، هېواد تــه وارد او صادر شــوي دي. د دې وزارت د معلوماتــو له مخې د انتقالاتــو لــه ډلې يــوه برخه

صادرات دي، په تېره يوه اوونۍ کې ۴۶۴ ټنه صادرات شوي، چې لويــه برخه يې وچــه مېوه او د انارو جــوس دي .هــر خومره چــې د وســپنې پټلۍ لــه لارې د صادراتــو او انتقالاتــو کچه لوړېږي، په هماغې اندازه کاري فرصتونــه برابرېږي، ملي عوايد زياتېږي او په ټوله کې اقتصادي ثبــات، ترقۍ او ځان بســيايني تــه لاره هوارېــږي. د ټولګټو چارو وزارت ... ۳مخ

پکتيا کې د برښنا رسولو پروژه ګټې اخيستو ته وسپارل شوه

د پکتيــا د مرکز ګردېــز اړوند کواښ، ســلات بېک، نوی کلي او تاخان خېلو سيمو ته د برښنا رســونې پــروژه د ۳۲ ميليونــو افغانيــو په لګښــت بشــپړه او رســماً ګټې اخيستنې ته وسپارل شــوه. ياده پــروژه، چې شــپږ ترانســفارمرونه لــري او ټوليز ظرفيت يې ۵۲۶ کيلو ولټ امپيره دی، د ۳۶۴ وسپنيزو پايو، شبکې غځونې او اړينــو تجهيزاتو پر مټ عملي شــوې ده. د پرانيستې مراســمو کــې د پکتيا برښــنا شرکت رئيس مولوي جان محمد انقلابي، د عملياتي چارو مرستيال انجنير عبدالرحمــن مخلص، د سيمې مشرانو او ځوانانو ګډون کړی و، چې په شــتون يې نوې شبکه فعاله او له ملي شبکې سره ونښــلول شــوه. په پروژه کې د ســلات بېک، کوز کواښ او بر کواښ لپاره ۱۰۰ کيلو ولټ امپيره او د وليــان، تاخان خېلو او نوي کلي لپاره ۶۳ کيلــو ولټ امپيره ترانسفارمرونه نصب شوي دي. د يادونې وړ ده، چې دا پروژه د ماليې وزارت لــه بودجې تمويل شوې، شاوخوا ۳۴۵ کورنۍ، يو ښوونځی، يوه ديني مدرسه، ګڼ شمېر جوماتونه او دوکانونه له دوامدارې برښــنا برخمنوي او همداراز، بزګــران به د کرنيزو چارو لپــاره هم له برښــنا ګټه پورته کړي.

غور کې لسګونو کورنيو ته د څښاک اوبه برابرېږي

د غور په لعل سرجنګل ولســوالۍ کې د اوبو رسولو د يوې شبکې د جوړولو چارې پيل شوې. د ياد ولايت د کليو د بيارغونې او پراختيا رياست مطبوعاتي مســئول ذبيح اللــه غــوثي زاده باختر اطلاعاتي آژانس ته ويــلي، چې د اوبو رســولو دغــه شــبکه د «ای. اې. ام» موسسې په مالي ملاتړ د ۴ ميليونه ۳۴۴ زره ۵۲۳ افغانيو په لګښت جوړېږي. د نومــوړي په وينا، د يادې شــبکې په جوړېدو سره به د ســيمې خلکو ته د څښــاک اوبه برابــرې او ورسره به د سيمې لســګونو کسانو ته د کار زمينه هم برابــره شي . ورته مهال د ســيمې اوسېدونکي د يادې شبکې د جوړولو له چارو خوښ دي او وايي چې د دغې شبکې په جوړېدو سره به يې د څښاک اوبو په برخه کې شته ستونزې حل شي.

غزني کې ۳ سړکونه کانکرېټ شول

د غزني ولايت په مرکز کې د ۳ سړکونو د کانکرېټولــو چارې بشــپړې او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي.

د غزني ښــاروالۍ د سکټوري چارو آمر فضل احمد مدني باختراطلاعاتي آژانس ته وويل چې دغه سړکونه د نړيوال بانک په مــالي ملاتړ د ۲۴ ميليونــو افغانيو په لګښــت د ياد ولايت د مرکز د لومړۍ او پنځمــې ناحيې په پښــتون آبــاد او خشک سيمو کې کانکرېټ شوي دي. د نوموړي په وينا دغه ســړکونه هر يو ۶۰۰ متره اوږدوالی او ۶ متره سور لري، چې د جوړېدو په بهير کې يې لسګونو کســانو ته د کار زمينه هم برابره شوې وه.ورته مهال د يادو سيمو اوسېدونکو د ســړکونو پر جوړېدو خوښي ښودلې او په راتلونکي کې يې هم د ورته نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه کړې ده.

حل مشکلات مهاجرين در اولويت امارت اسلامی و مردم قرار دارد ۲

د تېرو خلورو لسيزو ترخو تجربو تکرار که پای ۲

هرات کې ۶ ښوونځيو ته احاطوي دېوالونه جوړېږي

د هــرات ولايــت پــه درېــوو ولســواليو کې د څــه باندې ۱۵ ميليونــو افغانيــو په لګښــت د شپږو ښوونځيو لپاره د احاطوي دېوالونــو د جوړولو چارې پيل شوې دي. د ياد ولايت د پوهنې رئيس مولــوي رحمت الله جابر وايــي، چــې د دغــه ولايت په کشــک کهنه، رباط سنګي او انجيل ولســواليو کې د همکارو بنســټونو په مالي ملاتــړ د ۱۵.۷ ميليونــو افغانيــو په لګښــت د ۶ ښــوونځيو لپــاره د احاطوي دېوالونو د جوړولو ... ۳مخ

سرلیکنه

راستنېدونکو کډوالو ته د ښارګوټو جوړول غوره اقدام دی!

په دې وروستیو کې له ګاونډي هېواد ایران څخه د افغان کډوالو د راستنېدنې بهیر بېسارې چټکتیا موندلې. د چارواکو په وینا، هره ورځ د اسلام کلا بندر له لارې زرګونه افغانان هېواد ته راستنېږي. دا بهیر که له یوې خوا د هېوادوالو د بېرته راتګ او له خپلې خاورې سره د مینې نښه ده، له بلې خوا د سرپناه، تغذیې، روغتیا او د ژوند د لومړنیو خدماتو له پلوه یوه ستره ملي ننګونه هم ده. له نېکهمرغه، اسلامي امارت د دغې ننګونې پر وړاندې بېپروا نه دی پاتې شوی، بلکې د کورنیو امکاناتو په بسیج کولو سره یې د بېرته راستنېدونکو لپاره د بېړنیو او بنسټیزو حللارو لټون پیل کړی دی.

د مهاجرت هر بهیر، که دا کورنی وي یا بهرنی، له بشري ناورین سره تړلی وي. هغه کسان، چې له کلونو یا میاشتو مهاجرت وروسته بېرته خپل هېواد ته راګرځي، اکثراً له مالي، رواني او ټولنیزو ستونزو سره مخ وي، دوی له ځان سره سرپناه او د کار زمینه نهلري او له ټولنیز پلوه هم له صفر څخه نوی ژوند پیلوي. له همدې امله د دغو بېرته راستنېدونکو پالنه یوازې یو خدماتي مسئولیت نهدی، بلکې یو انساني، اسلامي او وجداني مکلفیت هم ګڼل کېږي. د اسلامي امارت د مسئولینو د ښکاره شویو پلانونو له مخې، حکومت له خپلې کورنۍ بودیجې څخه یو نیم میلیارد افغانۍ د راستنېدونکو لپاره ځانګړې کړې دي. دا بودیجه نهیوازې د عاجلو خدمتونو لکه موقتي سرپناه، خوړو او روغتیایي خدماتو لپاره ده، بلکې د اوږدمهالو استوګنځیو جوړولو ته هم ځانګړې شوې ده.

د راپورونو له مخې، اسلامي امارت پلان لري، چې د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې ۳۵ ښارګوټي جوړ کړي، څو بېرته راستنېدونکو ته دا امکان برابر شي چې یو عزتمند، با ثباته او پایدار ژوند ولري. دا ښارګوټي به پر ۱۲۰ زره جریبه ځمکه جوړ شي، چې د ژوند اساسي شرایط، لکه کورونه، ښوونځي، روغتیایي مرکزونه، جوماتونه، سړکونه او نور زېربنایي جوړښتونه پکې شامل دي.

د نیم میلیون راستنو شویو شتون، که له یوې خوا د دولت لپاره مالي او خدماتي فشارونه زیاتوي، له بلې خوا یو فرصت هم دی. دا کسان د کار ځواک لري او که چېرې د دوی لپاره د مسلکي روزنې، تولیدي فعالیتونو او کار زمینه برابره شي، نو نهیوازې به خپله پر ځان بسیا شي، بلکې د ټول هېواد اقتصادي پرمختګ ته به هم ګټور تمام شي. د بېرته راستنېدونکو کډوالو موضوع نهیوازې د مهاجرت، بلکې د انساني کرامت، حکومتدارۍ او ملي وحدت مسئله ده. اسلامي امارت د دغه بهیر په مدیریت کې تر دې دمه مهم، هوښیار او مسئولانه ګامونه اخیستي دي. د کورنیو امکاناتو بسیج، د ښارګوټو د جوړېدو ستر پروګرام او د بندري خدماتو تنظیم دا ټول هغه اقدامات دي چې د یوه مسئول نظام ژمنتیا څرګندوي. هېواد ته بېرته راستنېدونکی هر افغان عزت، سرپناه، کار او خدمت ته اړتیا لري او دا د حکومت، ملت او نړیوالو ګډ مسئولیت دی چې دغو مظلومو خلکو ته د عزتمند ژوند فرصت برابر کړي. د کډوالۍ له درد څخه تر هوسا ژونده پورې، دا بهیر باید د تدبیر، زغم او دوام پر بنسټ مدیریت شي.

حل مشکلات مهاجرین در اولویت امارت اسلامی و مردم قرار دارد

استوار

بی گمان تصمیم عجولانه از سوی دوکشور همسایه وتعیین ضرب الاجل زمانی غرض اخراج اجباری مهاجران افغان موردیست که به نحوی از انحا برمشکلات آنها افزوده است. تعدد اخراج مهاجران در کوتاه مدت معضلیست برای برگشته گان و نهاد های ذیربط. به این منظور امارت اسلامی و مردم افغانستان در زمینه رفع مشکلات مهاجرین برگشته جداً در زمینه مصمم اند، باهمکاری نهادهای ذیربط داخلی وخارجی کمک رسان و همچنان بازرگانان افغان به حل مشکلات برگشته گان رسیده گی لازم نمایند.

از جمله میتوان کمپ مهاجرین در مرز اسلام قلعه را که به زودی ایجاد میگردد، عنوان کرد.

رئیس اطلاعات اداره ملی مبارزه با حوادث در زمینه گفت: دفتر حمایت از کودکان افغانستان با هماهنگی ریاست آماده گی مبارزه با حوادث ولایت هرات اقدامات بشر دوستان را عملی خواهد کرد. در کمپ عمری ۳۵۱ خیمه و۷۰ خیمه در پل ابریشم نیمروز باتمام امکانات نصب شده وبه زودی کار ایجاد کمپ در مرز اسلام قلعه آغاز میگردد، همچنان یکی از بازرگانان بادرک و با احساس کشور به کمک مهاجران شتافته است و از دیگران نیز خواسته است که در این روند انسانی و اسلامی شریک شوند.

از جانب دیگر امارت اسلامی افغانستان برای بیشتر از ۵۰۰۰ خانواده مهاجر برگشته به وطن کمک نقدی نموده است که کمک یاد شده به این خانواده ها ۴۲ میلیون و۸۶۳ هزار افغانی بوده و توزیع گردیده است.

این یکی دو مورد مشت نمونه خروار بود که در قسمت حل مشکلات مهاجران صورت گرفته است. با یاری الله متعال مردم با مناعت افغانستان متانت این را دارند که به هموطنان برگشته خود رسیده گی نمایند، آنچه که شایان ذکر است عملکرد پولیس دو کشور همسایه است در مقابل افغان های مهاجر، لت وکوب، تهدید و حتا در بعضی موارد غصب اموال، پول و دارایی ایشان در میان بوده که چپاول وغارت گردیده است. بویژه در کشور ایران پول های مهاجرین را از بابت خانه و مزد کاری شان نمی دهند که این در نهایت امر خیلی ها آزار دهنده و خلاف تمام موازین انسانی و بشری است.

مسئولین امور در زمینه با مسئولین کشورهای همسایه در تماس اند تا این معضل را از راه تفاهم و تعاطی نظر حل نمایند.

مقوله ای داریم، میگویند که: «زمستان می گذرد و روسیاهی به زغال میماند»

امید به خداوند است که در کوتاه مدت افغانستان دوباره به پای خود بایستد و از احتیاج بیگانگان رهایی یابیم که ان شاءالله آن روز نزدیک است و این عملکرد های پاکستان و ایران در دل تاریخ و خاطره ها به یاد خواهد ماند.

ما مطمئن هستیم که مردم با درک و با احساس ما در مقابل هموطنان برگشته خویش از هیچگونه فدا کاری دریغ نمی ورزند، باید کوشش کنند آنانی که دو خانه و یابیشتر از آن دارند به دسترس مهاجران برگشته بگذارند، حتا رایگان و یا هم به قیمت ناچیز که خداوند از ایشان راضی باشد.

آتش بس های موقت و مغرضانه !

شبیر راحل

در جنگ اسرائیل و حماس، اسرائیل و حزب الله، اسرائیل و یمن، اسرائیل و ایران و کشمکشهای خرد و ریزه این سو و آن سو دیدیم که در پهلوی این جریانات مسئله آتش بس بین اطراف جنگ هم که در آغاز از سوی اسرائیل و حامیان بینالمللی و منطقوی آنان به شدت رد میشد و با تمام نیروی حنجرهها اعلان میکردند که راه حل و پلان برگشت ناپذیر اسرائیل در مورد فقط شکست کامل حماس در غزه و آزادی و رهایی اسیران توسط زور از دست مبارزین حماس است و راه سوم برای این مشکل وجود ندارد، اما با گذشت زمان و پیش آمد حوادث جدید مقاومت بی مثل مبارزین حماس در صحنههای سیاسی و جنگی، تمام شعارهای رژیم اشغالی اسرائیل صد در صد غلط برآمد و این واقعیت، تمام حامیان منطقوی این رژیم را بر آن وا داشت تا در مورد زبان گذشته خود را بدل کنند و از آن شعارهای پرطمطراق گذشته خود بگذرند و به آتش بسهای موقتی و مذاکرات فی مابین اسرائیل و حماس و ... هم در این روند، برای این که خیلی هم مسخره نشوند، چنانچه شدند، با قبول مذاکرات و تن دادن به آتش بس، موارد دیگر را هم شامل اجندای مذاکرات کردند و محاصره همه جانبه اهالی غزه را هم در پهلوی سایر جنایات جنگی افزودند و هکذا عقب نشینی حماس از غزه و خلع سلاح مبارزین آنان تحت نظارت تشکیلات خودگردان فلسطین، که طی زمان جنگ والله اعلم در کدام منطقه قرار داشتند و یک کج نگاهی هم به سوی جنایات عساکر اسرائیلی نکردند و «جان شاه عباس به سلامت باشد »گفته،ستر و اخفا کرده بودند و گاهگاهی، زبان خود را هم علیه مبارزین حماس از دهان میکشیدند، که گویا عاملین اصلی بحران همینها اند !

جنگ و حملات نظامی متقابل بین اسرائیل و جمهوری اسلامی ایران بحران را وسیعتر ساخت، در حالی که در همان منطقه مخصوص غزه و لبنان محدود بود.

این تغییرات یا حوادث هم چهره جنگ را عوض ساخت و هم دیدگاهها و پروسه سازماندهی جنگ را .

از دیدگاه قانون جنگی، هر جنگی که برای حل آن به علل بنیادین جنگ توجه نشود و ارزیابی نگردد و برای از بین بردن آن عوامل و هکذا ادعاهای حقوقی طرف و یا طرفین تلاش نشود، هر راه حل ارزش موقتی دارد و هر آتش بسی به خاطر اهداف خاص طرف و یا طرفین است که ممکن این اهداف مفید طرف و یا هم قسماً مفید باشند و ممکن ۵۰ درصد مفید و ۵۰ درصد هم مضر باشند و بعد از گذشت مدت زمان وضعیت پس به حالت قبل از آتش بس یعنی جنگ مجدد برمیگردد و ممکن هم بدتر از آن ۱۰۰ برابر خطرناکتر باشد. زیرا عوامل جنگ و بحران و ناامنی از بین برده نشده و کاملاً پابرجا اند . راهاندازی مذاکرات سیاسی و دیپلوماتیک بنابر نیات تزویری و گول زدنها و تزویرها و اکمالات جبهه جنگی میباشد، زیرا مشکلات کلان باز هم پابرجاست. روشن است که رژیم اشغالی اسرائیل در تمام شعارهایی که در آغاز جنگ به مردم خود وعده داده بودند، شکست خورد و در سطح تمام جهان به عنوان رژیم کودک کش معرفی شد و اسیران خود را از قید حماس رها ساخته نتوانست و مبارزین حماس هم با گذشت هر روز، قویتر و قویتر و با ارادهتر و مصممتر شده میروند و ضربات جنگی ایشان نسبت به سابق بزرگتر و قویتر و نشانزنتر شده رفت و میرود. این همه عوامل موجب آن شده که اسرائیل به آتش بس و مذاکرات تن دهد و از آن غر زدنهای اولیش بنشیند ولم بزند، اما خاطر نشان باید کرد که رژیم فتنهگر اسرائیل این آتش بس و مذاکرات را هم طوری راه اندازی میکنند که به زعم خودشان در بین دشمن خود نفاق و بیاعتمادی به میان آورد تا با این کار خود وحدت و حمایتی که بین حماس و حزب الله و انصار المجاهدین وجود دارد و با تمام قوت از یکدیگر خود بر اساس اخوت اسلامی دفاع میکنند، بشکند و این شیرازه وحدت و حمایت بی مثل آنان را ویران کنند و به این ترتیب شکستهای خود را در جنگ رویارویی در این ناحیه جبیره کنند. مثلاً: حملات اسرائیل بالای جمهوری اسلامی با شعارهای خیلی بلند و بالا راه اندازی گردید که حتی به گمان خودشان از شورش داخلی ایران توسط عمال اسرائیل بر ضد جمهوری اسلامی برای تغییر نظام هم صحبت میکردند!!

اما دیده شد که هیچ کاری هم کرده نتوانستند و تعداد زیادی از جواسیس اسرائیل در ایران دستگیر و اعدام شدند و در مقابل آنان جنگ متقابل ایران علیه اسرائیل چیغ و فریاد آنان را به آسمان کشید و مردم تل ابیب علیه نتانیاهو مظاهرات کردند و به رهبری ایران پیام دادند که مردم اسرائیل جدا از حکومت نتنیاهو اند و قرار گزارشات، حدود یک میلیون تن از سکنه تل ابیب و چند شهر کلان دیگر به خارج فرار کردند . این عمل بالمثل جمهوری اسلامی، اسرائیل را شوکه کرد و فوراً به امریکا مسیج کردند که آتش بس عاجلی را از طریق قطر با جمهوری اسلامی سازمان دهد و ایران این آتش بس با اسرائیل را که خود اسرائیل هم آغازگر جنگ بودند، به عنوان شکست اسرائیل جشن گرفت و آن را پذیرفت، اما دیدیم که با آتش بس با ایران حکومت اشغالی، آتش جنگ را از زمین و هوا در غزه شدت بخشید، یعنی که با ایران آتش بس کرد و به طرف مورد حمایت ایران یورش برد و همینطور چندی پیش که بین حماس و اسرائیل آتش بس موقت صورت گرفت، یک روز بعد از آن حملات شدید اسرائیل بر حزب الله لبنان راه اندازی شد. این واقعیتها مبین آن اند که آتش بسهایی که میان اطراف جنگ شرق میانه به راه میافتند گر چه برای امداد ساکنین در محاصره طویل المدت غزه و مناطق جنگی مفید اند و برای آنها آهی به آرام شمرده میشود و حماس هم روی همین پاینت مثبت از آن استفاده میکند، زیرا در این مناطق دیدیم که اطفال و بزرگسالان و مریضان از نبود و کمبود نان و آب و غذا به سوی تغذیه میروند و حفظ حیات آنان و رسیدن امداد ها به آنان از جمله واجبات است، اما آن طرف میبینیم که در هر آتش بس یک فتنه جدیدی را راه اندازی میکنند و به این ترتیب از هر چانس ضعیف بر اساس منافقتهای مخصوص استفاده میکنند و مانند سیل بردگان به هر خس و خاشاک برای نجات خود از هلاکت دست میاندازند و به هیچ قول و قراری صادق نیستند و با سیاستها و مواقف دو رو و منافقانه برخورد میکنند و بر این اخلاق منافقانه خود هم میبالند و این عمل را در قاموس انسانیت، افتخار با جهالت و نامردی مینامند؟

سیاسي تبصره

د تېرو څلورو لسیزو ترخو تجربو تکرار که پای

سیف الله سیار

د خپل شعر په دې بیت یې پیلوم چې:

ترخو به د ړندو په څېر د نورو پر اوږو ځو!

پخپله نورې سترګې غړول غواړي ملګرو

د افغانستان د اسلامي امارت چارواکي مسئولیت لري چې خپل بهرنی سیاست داسې عیار او جوړ کړي ترڅو خپل ګران او محبوب هېواد، خپل مؤمن او ځورېدلی ملت او ټول اسلامي امت له بدمرغیو او ذلت څخه وژغوري، د نړیوالو استعمارګرو او استکباري قوتونو د نیابتي او استخباراتي جنګونو په جال کې ورښکېل نشي، د الله رب العزت پر سپېڅلي کتاب قرآن کریم او لارښوونو یې عمل وکړي او په همدغه کتاب کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې یهود او نصارا په دوستۍ مه نیسئ او هېڅکله هغوی ستاسي دوستان کېدای نشي، ترڅو چې تاسي د هغوی په ملت نه شئ او همدارنګه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی چې وایي: «یو مسلمان له یوه سوري څخه دوه وارې نه چیچل کېږي» مسلمان باید ځیرک واوسي، له تېرو ترخو تجربو څخه پند واخلي او داسې پالیسي او تګلاره خپله کړي چې د ګرد اسلامي امت د نجات ذریعه وګرځي. موږ دا منو چې نړۍ پرمختګ کړی او د انسانیت د سهولت لپاره یې اړین وسایل او اسانتیاوې رامنځ ته کړي دي، خو له بل طرفه هغوی د بشریت د تباهۍ لپاره هم داسې وسلې جوړې کړي چې په استعمال سره یې د میلیونونو انسانانو ژوند هم اخلي. کیمیاوي او بیولوژیکي وسایل او بې پیلوټه پرمختللي الوتکې لري، خو بیا هم د هغو روح چې تېل دي د مسلمانانو په لاس کې دي، خو د اسلامي املت د غلامو او لاسپوڅو حکامو او غفلت له امله مسلمانان د خپلمنځي اتحاد پر ځای پخپلو کې په اختلاف اخته دي او د مسلمانانو د ژوند طوفاني او لاالهانده بېړۍ د ډوبېدو په حال کې ده. د غزې د مسلمانانو پر عام وژنه او د یهودو پر ظلم او وحشت یې ذهنونه او زړونه ونه بوږنول او لاهم د فیل په غوږ کې ویده دي. که همداسې د خپل ګران او خوږ هېواد افغانستان د تېرو څلورو لسیزو تېر تاریخ ته ځغلنده کتنه وکړو، د همدغو مغرورو استعماري او استکباري طاقتونو په نیابتي او استخباراتي جنګونو کې راښکېل شوی چې په پایله کې یې په میلیونونو مؤمن او مېړني افغانان په شهادت رسېدلي او وطن مو پر کنډوالو بدل شوی. افغانان چې د غلامۍ له ژوند سره نااشنا دي او په هېڅ شکل د پردیو ځغ ته سرنه ټیټوي او د دریوو سترو فرعوني امپراتوریو د ماتولو ویاړ یې راخپل کړی، نو پکار ده چې د خپلې آزادۍ او استقلال لپاره هم داسې مباره وکړي چې هم خپله آزادي وساتي او هم داسې بهرنۍ پالیسي غوره کړي چې خدای مه کړه یو ځل بیا یوه ته د نړدې کېدو په سر له نورو سره په جنجال اخته نه شو، خپل ملت باید وروزو او د خپلو ځوانانو د استعدادونو پرمټ او فزیکي قوت خپل ملت او هېواد له نورو ملتونو او هېوادونو سره د سیالۍ جوګه کړو. په همدې هیله

افغان اعلانات

دعوت به داوطلبی باز ملی

{تهیه کمپیوترباب، پرنترباب، رنگباب و لوازم برقی- NExA/1404/NCB/G-005}

اداره ملی امتحانات از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه کمپیوتر باب، پرنترباب،رنگباب و لوازم برقی) این اداره اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوط را در فلش دسک (حافظه) طوری رایگان از مدیریت عمومی تهیه وتدارکات اداره ملی امتحانات کوچه یفتالی ها،عقب سیتی سنتر،سرک سابقه وزارت امور داخله ، ناحیه چهارم-کابل بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۹:۰۰) قبل از ظهر روز (چهار شنبه) مورخ (۱۴۰۴،۰۵،۱۵) به شعبه مدیریت عمومی تدارکات، منزل سوم تعمیر اداری ارائه نماید. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشند.

تضمین آفر بصورت (بانک گرنتی) مبلغ (۱۹۰۰۰۰) یکصدو نود هزار افغانی بوده، و جلسه آفرگشائی به روز (چهار شنبه) مورخ (۱۴۰۴،۰۵،۱۵) ساعت (۰۹:۰۰) قبل ظهر در شعبه مدیریت عمومی تدارکات تدویر میگردد. ۴۸۰

موضوع: - اطلاعیه تصمیم اعطاء قرارداد پروژه اعمار یک باب تعمیر متبرکه ولایت لوگر با ملحقات آن بابت سال مالی ۱۴۰۴ هـ ش

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود،وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه اعمار یک باب تعمیر متبرکه ولایت لوگر با ملحقات آن بابت سال مالی ۱۴۰۴ هـ ش خویش را به رودات میهن ساختمانی شرکت دارنده جواز نمبر (D- ۱۷۰۹-۰۲) واقع تالاشی چوک، مرکز ننگرهار، جلال آباد، ننگرها،کابل. به قیمت مجموعی مبلغ (۳۴،۴۹۳،۶۹۸) سی و چهار میلیون و چهار صدو نود و سه هزارو شش صدو نود و هشت افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا پروژه تهیه و تدارک تجهیزات برقی و مواد ساختمانی، نصب و منتاژ تجهیزات و تست و کمیشنینگ پروژه برق رسانی ساحات باقیمانده دهنو الوزی ولایت لوگر، شماره داوطلبی: ۰۹۸-اجناس/داوطلبی باز ملی/۱۴۰۳/برشنا شرکت- اعلان مجدد با شرکت خدمات لوژستیکی وحدت دارنده جواز نمبر ۳۹۲۴۴ با داشتن محل اصلی شرکت{ شهرنو چهار راهی حاجی یعقوب ناحیه دهم مرکز کابل، کابل} به قیمت مجموعی مبلغ (۵۹۸،۹۹۹،۲) پنجصد و نود وهشت هزار و نوصد و نود و نو اعشاریه دو افغانی اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات د افغانستان برشنا شرکت - دهمزنگ - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

طلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه وتدارک تجهیزات برقی و کار ساختمانی ضرورت جکشن اول کابل برشنا را تحت شماره کابل برشنا- ۱۴۰۴- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۹ با شرکت تجارتی قیس صمیم که دارنده جواز نمبر ۷۰۹۵۹ و با داشتن محل اصلی تجارتی} سرای علاودین مرکز کابل، کابل افغانستان} را مبلغ ۱،۸۶۰،۰۰۰ یک میلیون هشت صدو شصت هزار افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه تخنیکران اورتوپیدی ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره داکتر حنیف الرحمن د محمد جلیل زوی، د کنړ ولایت مرکز ولسوالي اصلي او د دکابل ولایت ۱۲ ناحيې فعلي اوسېدونکی درییس ، او داکتر امیر جان د ګل آقا زوی، د لوګر ولایت محمد آغه ولسوالي اصلي او دکابل ولایت ۸ ناحیې فعلي اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلي بڼه وړاندې کړي له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري.۴۵۸

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۳۸۸۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حمید خان فرزند رحمت خان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۴۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ثنا الله حمیدی فرزند عبدالشکور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نوریه حمیدی بنت ذکر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۶۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیر محمد محمدی فرزند محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالباسط خلیلی فرزند عبدالخلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد شفیع عظیمی فرزند محمد شفا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۹۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسمعیل تنها فرزند موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی شفایی فرزند رضا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم طاهر وحدت فرزند چمن علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امیر خان فقیری فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید باقر حسینی فرزند شاه خداد داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بشیر فرهمند فرزند نور احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی محمد براتی فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالبصیر رازقی فرزند ناصر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احسان الله توخی فرزند شهباز خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بلقیس رحمتی بنت فیض محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز احمد دارنی فرزند بازمحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیصل کتوازی فرزند محمد حکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمعید رشید فرزند عبدالمبین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نعیم اکرمی فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد سلیمان نوری فرزند نصیراحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید محمد محمدی فرزند حاجی محمد یار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حیا ابدالی فرزند نقیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۳۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هوسی ابدالی بنت احمدزی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجید بهیر فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۳۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد **پاسپورت** سیاحتی به اسم ضیا خانم علی خیل بنت محمد قلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میا گل رحیمی فرزند جمعه گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل الرحمن عیلمی فرزند حاجی ملنگ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله امیری فرزند جمعه گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کریمه غفوری بنت محمد یعقوب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۷۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمیده احمدی بنت جمعه الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عمران محمدی فرزند عبدالسمیع مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خلیل احمد احمدی فرزند عبدالحکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله رسولی فرزند محمد معصوم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله اعظمی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد امین حیدری فرزند محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عباد الله بارکزی فرزند محمد حلیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۴۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی کریمی فرزند اسحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید امین ابراهیمی فرزند سید شمس الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالبصیر قادری فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عیسی فرزند موسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیال نواز ودان فرزند نور جوان خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شمالی جباری فرزند تاج محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمعه فرزند خواص مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اکبر جعفری فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قاسم شاه محبت زاده فرزند سید حسین شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیلما هاشمی بنت سید محمد سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید عرفان محبت زاده فرزند قاسم شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جان محمد رحمانی فرزند حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۰۲۵

اسلامي امارت د ولسي شاعر ...

رسنیو کاروونکو ژوره خواشیني څرګنده کړې ده . دوی د ولسي او ملي شاعر (تراب) مړینه د هېواد د ادب لپاره یوه ستره ضایعه بللې ده. نوموړي ته یې د جنت‌الفردوس غوښتنه کړې او د هغه کورنۍ، دوستانو، د ادب مینه‌والو او ټول افغان ولس ته یې د تسلیت مراتب وړاندې کړي دي. د پښتو ژبې مشهور ملي حماسي شاعر مطیع الله تراب ورمه شپه د زړه د درېدو له امله سا ورکړه. ښاغلی تراب د ۱۹۷۱ کال په مارچ کې د ننګرهار په خوګیانیو ولسوالۍ کې زیږېدلی و او د ژوند ډېره برخه یې په خوست کې له خپلې کورنۍ سره تېره شوې ده.

نړیوال بنسټونه دې ...

چې له ایران څخه د افغان کډوالو راستنېدل په اندېښنې وړ بڼه زیات شوي او له هغوی سره د همکارۍ او مرستې جدي اړتیا ده او د دې وضعیت په دوام سره به د هغوی ستونزو ته رسېدنه سخته شي.

هغې زیاته کړې، چې د انسان دوستۍ همکاریو په برخه کې د کافي مالي پیسو له کموالي سره سره له افغانانو په ځانګړې ډول کډوالو سره به د دې سازمان مرستې دوام ولري او د ملګرو ملتونو سازمان مقاماتو د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو څخه د کډوالو د اېستلو د درېدو په اړه څو غونډې وکړې، چې هیله ده د افغانانو په ګټه ښې پایلې ولري. په ورته وخت کې په افغانستان کې د (یو. ان . اچ. سي. آر) دفتر مسئول عرفات جمال د اسلامي امارت د مسئولینو له لوري راستنو شویو کډوالو ته په بېلابېلو برخو کې د لازمو خدماتو وړاندې له کولو مننه وکړه.

نوموړې وویل: په افغانستان کې له اقتصادي ستونزو سره سره خلک په پرانیستي غېږې د راستنو شویو کډوالو هرکلی کوي او دا کار واقعاً د ستاینې وړ دی. ښاغلي عرفات جمال د ملګرو ملتونو سازمان له لوري افغان کډوالو ته د ۱۰میلیونو ډالرو نغدې مرستې د ځانګړې کېدو یادونه کړې او ویلي یې دي: دا سازمان کوښښ کوي، چې په دې برخه کې زیاتې پیسې ترلاسه کړي. په همدې حال کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د ملګرو ملتونو سازمان له بشردوستانه مرستو قدرداني کړې او ویلي یې دي، چې له راستنو شویو کډوالو سره د همکارۍ په موخه زیاتې اړتیاوې شته او لازمه ده مسئول بنسټونه دې برخې ته پاملرنه وکړي.

د ریاست الوزراء اداري مرستیال د اسلامي امارت له لوري راستنو شویو کډوالو ته د خدمتونو برابرولو ته په اشارې ویلي، چې په اسلام کلا او د وربښمو لارې بندرونو کې د کاري ځواک د زیاتوالي، د کافي خوړو او د څښاک اوبو د تامین، د ګومارل شویو کمپټو ترمنځ د شبکه یي اړیکو رامنځته کولو او د کډوالو لپاره د زیاتو هنګرونو او خېمو برخه کې زیات اقدامات شوي او مسئولین کوښښ کوي، چې ژر تر ژره د کډوالو ستونزو ته رسیدګي وکړي.

مولوي عبدالسلام حنفي همدارنګه له مسئولو بین المللي بنسټونو وغوښتل، چې له کډوالو سره د مرستې او د دوی د حقونو په تأمین کې خپل مسئولیتونه ادا کړي.

سمنګان؛ راستنو شویو ...

بغک دمکی، خانه سنګی، شورای حسنی او بیانان تیموری کې جوړې شوې دي. مسئولین وایي: هره سرپناه دوه خونې، یو دهلیز او یو تشناب لري او د نړیوالو ساختماني معیارونوپه مطابق ډیزاین شوې دي. په ورته وخت کې د عبدالستار په نامه یو کډوال وایي:« زموږ لپاره دا سرپناوې د امن او کرامت نښې دي او هیله من یم چې حکومت د اوبو، برښنا، روغتیا او سړکونو په برخه کې هم عملي ګامونه پورته کړي».د یادونې وړ ده، چې دغه پروژه د کورنیو د بیا استوګنې، د اقلیمي زیانونو د کمولو او ټولنیز ثبات لپاره مهمه بلل شوې ده.

د برښناشرکت او صدف ...

او د برښنا د تخنیکي انجنیرانو د ظرفیت لوړونې په برخو کې د پانګونې هوکړه لیک لاسلیک کړ.)) ډاکټر عمر د هوکړه لیک د لاسلیکولو پر مهال د شرکت مسئول ته ویلي چې اوسمهال په افغانستان کې د برښنا د تولیدپر پروژو د پانګونې په برخه کې اړینې اسانتیاوې برابرې شوي او دوی کولای شي په بشپړ ډاډ سره پانګونه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان برښنا شرکت له دې وړاندې هم د ترکیې، چک او سلواکیا په ګډون؛ له ګڼ شمېر نړیوالو سرکتونو سره د برښنا د تولید او ظرفیت لوړولو په برخو کې د پانګونې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي چې دا مهال یې پر یو شمېر پراختیایي پروژو عملي کار هم روان دی.

سرکال د پنجشېر ۱۸زره ...

وزارت ویاند، همایون افغان، رسنیو ته ویلي: «له ۱۴۰۴ هجري لمریز کال راهیسې تر دې دمه، د پنجشیر زمردو پنځه دورې داوطلبۍ ترسره شوي چې په ترځ کې یې شاوخوا ۱۸ زره قیراطه زمرد، د ۱.۱ میلیونو ډالرو په ارزښت، پلورل شوي دي.)) د زمردو د پلور تر څنګ، وزارت د پنجشیر په پریان ولسوالۍ کې د زمردو د نویو کانونو د کشف خبره هم کوي او زیاتوي چې په نږدې راتلونکي کې به د وزارت تخنیکي ټیمونه د دقیقې سروې لپاره سیمې ته واستول شي. ښاغلي افغان زیاته کړه: ((د پریان ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې معدنونه لیدل شوي دي. وزارت پلان لري چې د سروې تخنیکي ډلې سیمې ته واستوي، څو دقیقه سروې وشي. وروسته له سروې، ان‌شاءالله پلان لرو چې دغه سیمې هم په قرارداد ورکړو.)) اخوا، اقتصادي کارپوهان ټینګار کوي، چې د کانونو، په ځانګړې توګه د قیمتي ډبرو، قانوني او شفاف استخراج کولای شي د هېواد د عوایدو په زیاتوالي او د کار زمینې برابرولو کې اغېزناک وي. د اقتصادي چارو کارپوه، محمد اصف ستانکزي رسنیو ته ویلي: ((که دا کانونه د نړیوالو معیارونو له مخې او په معیاري ډول و کیندل شي، نو کولی شي د هېواد ملي عواید تضمین کړي او افغانستان به وکولی شي د خپلو قیمتي ډبرو پر مټ ملي او تخصصي بودجه تمویل کړي.))د کانونو او پټرولیم وزارت د معلوماتو له مخې، تر اوسه د زمردو ۶۰۰ رسمي جوازونه ورکړ شوي او له ۱۵ زرو زیات کسان د زمردو په بېلابېلو برخو کې په کارونو بوخت دي.

تېره اوونۍ د وسپنې پټلۍ ...

هڅه کوي، ترڅو د لا زیاتو انتقالاتو لپاره مناسب شرایط برابر او سوداګرو ته اړین سهولتونه چمتو کړي او د ملي عوایدو د زیاتوالي په موخه د ریل پټلۍ له لارې د سوداګریزو توکو د لېږد او را لېږد بهیر روان او چټک وساتي.

هرات کې ۶ ښوونځیو ته ...

چارې پیل شوې دي.

د نوموړي په وینا، د یادو دېوالونو په جوړېدو سره به د یادو ښوونځیو امنیت خوندي او د زده کوونکو لپاره به د زده کړو آرام چاپیریال برابر شي. د سیمې اوسېدونکو د یادو دېوالونو په جوړېدو خوښي ښودلې او له حکومت څخه یې د ورته نورو ټولګټو پروژو د پلي کېدو غوښتنه کړې ده. باختر

ټول باید لاسونه سره ...

ملا خیرخواه، د هېواد ځوانانو او ماشومانو ته سپارښتنه وکړه چې له خپل وخت څخه سالمه ګټه واخلي او د کتاب د مطالعې له لارې خپلو استعدادونو ته وده ورکړي؛ خپله تحصیلي او معلوماتي کچه لوړه کړي او همدا رنګه له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره، د هېواد د پرمختګ لپاره هڅې وکړي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ډاډ ورکړ چې دغه وزارت د امکاناتو په پام کې نیولو سره په هېواد کې د مطالعې کلتور ترویج او د کتابتونونو جوړولو، کتاب لوستلو ته د ځوانانو او ماشومانو هڅولو او د لیکوالو او ناشرانو ملاتړ او اسانتیاوو برابرولو ته ژمن دی او دغه راز له ملي او نړیوالو سازمانونو څخه یې وغوښتل چې په دغو برخو کې دې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره همکاري وکړي.

همدا رنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معین مولوي محمد یونس راشد، کتاب او مطالعه د علمي کچې د ارتقا او لوړولو یوازنۍ لاره وبلله او له نړیوالو سازمانونو او بنسټونو څخه یې وغوښتل چې د نورو برخو ترڅنګ، په کلتوري او تعلیمي برخو کې هم له افغانستان سره مرسته وکړي او د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ځوانانو لپاره د کتابتونونو په جوړولو او تجهیز کې همکاري وکړي.

د عامه کتابتونونو رئیس حافظ نعمت الله منتظر هم د کتاب او مطالعې پر اهمیت خبرې وکړې او وې ویل:«د کتاب او مطالعې ارزښت زموږ د دیني امتونو، اسلامي تمدن او علمي تاریخ له ژورو سره تړلی او الله (ج) د بشري معرفت بنسټ، د قلم او زده کړې پر محور ایښی دی.» د غونډې په پای کې، د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر او نورو مسئولینو له لوري، پر یو شمېر یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو چمتو شوې ډالۍ ووېشل شوې. د یادونې وړ ده چې د ۱۴۰۴ لمریز کال د "کابل کتاب" تر عنوان لاندې جشنوارې په درېیمه ورځ (نن د روان کال د چنګاښ په ۲۵مه) به د کابل ښار په دشت برچي سیمه کې د کتاب یو ورځنی نندارتون هم ترسره شي.

د کډوالو چارو وزارت ...

له کابل، کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، نیمروز، ننګرهار، کونړ، نورستان، لغمان، بامیان، دایکندي، میدان وردګو، پروان، کاپیسا، لوګر، پنجشیر، خوست، پکتیا، پکتیکا، غزني، بلخ، جوزجان، سرپل، فاریاب، سمنګانو، کندز، بغلان، تخار او بدخشان ولایتونو کې ولګوي.

غزه کې ۳ اسرائیلي ...

او ګڼ نور ټپیان دي .شاوخوا یوه اوونۍ وړاندې هم د غزې په شمال کې ۵ اسرائیلي عسکر وژل شوي وو او ۱۴ نور سخت ټپیان وو، چې د ډېرو یې حالت نازک ښودل شوی و.

د سالنګ لارې پر ۳ مهمو ...

په شمالي سالنګ کې بیا زموږ د کانکریټ لپاره په چمتو کولو کار روان دی. د ټولګټو چارو وزارت د بیارغونې پر بهیر سربېره، د دې لارې پر سر د تول پلازا د فعالېدو خبر ورکړی او وایي چې عواید یې قراردادي شرکتونو ته ورکول کېږي. د چارواکو په وینا: د بار وړونکو موټرو تګ راتګ له بدیلې لارې له کومې ستونزې پرته، روان دی او که اصلي لاره بنده شي، د بدیلو لارو پر انتخاب هم کار روان دی. له دې سره هممهاله، د اقتصادي چارو ځینې شنونکي د سالنګ لویې لارې ستراتېژیک موقعیت ته په کتو ټینګار کوي چې د دې لارې بیارغونه باید معیاري، پایېدونکې او اوږدمهاله وي. د اقتصادي چارو شنونکی، عبدالظهور مدبر وایي: د سالنګ لاره چې څومره معیاري او قوي وي، باید نوره هم قوي شي، ځکه چې دغه لاره فعاله وي موږ د مرکزي آسیا هېوادونو سره اړیکې درلودای شو. له دغې لارې بیا موږ ته توکي راځي او زموږ له لارې سویلي آسیا ته هم توکي ځي. سوداګر، امید حیدري هم وایي: زموږ غوښتنه دا ده چې د سالنګ لاره قوي جوړه شي او د نورو بدیلو لارو تر پرانیستل کېدو پورې دغه لاره د تګ راتګ یا لویو موټرو پر مخ پرانیستې وي. د سالنګ پر لویه لاره هر کال زرګونه ټنه سوداګریز او ټرانزیټي توکي لېږدول کېږي او بیارغونه یې د اقتصاد په پیاوړتیا، د ټرانسپورټي لګښتونو په کمولو او د افغانستان د سیمه‌ییزو اړیکو په زیاتولو کې مهم رول لوبوي.

د عامې روغتیا وزارت ...

او پلورنځیو د خوراکي توکو نمونې اخلي، ازمیي او ارزوي یې، که معیاري او سالم وي اجازه ورکوي.ښاغلي رحیمي وایي: له یادو غیرالکولي مشروباتو څخه مو دوه اوونۍ وړاندې یوه نمونه واخیستله اولابراتور ته مو ورکړه چې پایله یې منفي ثابته شوه. دی وایي: ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوم، چې بې کیفیته توکي به له منځه وړي او ده له ټولو سوداګرو څخه غوښتنه وکړه، چې معیاري او ثبت شوي توکي بازار ته وړاندې کړي، که چېرته داسې ونه کړي، له قانوني چلند سره به مخ شي. ډاکټر محمد نبي صافي وایي، چې بې کیفیته خوراکي توکي، د معدې د خرابوالي، اسهال، استفراغ، غذایي زهریت، اوږد مهاله د ګېډې دردونو او په ځینو وختونو کې د سرطان ناروغۍ سبب هم ګرځي. د کابل ښار یو تن اوسېدونکی صدام عکاشه وایي: ډېر خوښ او خوشحاله یم چې په کابل ښار کې غیر الکولي مشروبات له منځه یووړل شول. ښاغلي عکاشه زیاته کړه، چې د خوړو او درملو معینیت باید پر ټولو توکو خپله څارنه زیاته کړي، ترڅو هېوادوال له بېلا بېلو ناروغیو څخه وژغورل شي.

سمیع الله مومند

د افغان کرېکټ ...

د میلیونونو خلکو په زړونو کې غږېدل.» نوموړي زیاته کړې: «تاریخ به مطیع الله تراب د افغانستان یو له سترو ادبي غږونو څخه په یاد ولري.»

د مطیع‌الله تراب پر ناڅاپي مړینه ګڼ شمېر ادیبانو، شاعرانو او د ټولنیزو رسنیو کاروونکو هم ژوره خواشیني څرګنده کړې ده.

د پښتو ژبې مشهور ملي حماسي شاعر مطیع الله تراب ورمه شپه د زړه درېدو له امله سا ورکړه.

ښاغلی تراب د ۱۹۷۱ کال په مارچ کې د ننګرهار په خوګیانیو ولسوالۍ کې زیږېدلی و او د ژوند ډېره برخه یې په خوست کې له خپلې کورنۍ سره تېره شوې ده.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۲۵۲۶۳۴۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

چهار شنبه د محرم الحرام ۲۰ مه ۱٤٤۷ق کال I د چنګاښ ۲۵ مه ۱۴۰٤ ل کال I د 2025م کال د جولای ۱٦ مه

ملا خیرالله خیرخواه:

ټول باید لاسونه سره ورکړو او په هېواد کې د مطالعې کلتور د ترویج لپاره هڅه وکړو

د اطلاعاتـو او فرهنـګ وزارت د هنر او کلتور معینیت اړوند د عامه کتابتونونو ریاست له لوري، د ۱۴۰۴ لمریز کال د «کابل کتاب» تر عنوان لاندې دوه ورځنۍ جشنواره پرون پای ته ورسېده.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ملا خیرالله خیرخواه د یـادې جشـنوارې په پای غونډه کـې، د کتاب مطالعـه د انسـان د ذهن آراملـو او ودې مهمه وسیله وبلله او ویې ویل چې اوس د دې اړتیا ده، چې ټول لاسونه سره ورکړي او په افغانستان کې د مطالعې کلتور د ترویج او د ذهنونو د اصلاح او روښانولو لپاره هڅې وکړي او راتلونکي نسل له بدبختیو څخه وژغوري ... ۳مخ

د کډوالو چارو وزارت له ودان افغانستان موسسې سره د همکارۍ هوکړه وکړه

د کډوالو او بېرته راسـتنېدونکو چـارو وزارت او د ((ودان افغانسـتان)) موسسـې ترمنځ د ۲ موسسه به دغه پیسې د مدني اسنادو په اړه د حقوقي مشورې ورکولو، د ماشـومانو د سـاتنې او ۲۳۹ زره

میلیونه، ۲۵۸ زره او ۵۵۳ امریکایي ډالـرو پـه ارزښـت د همکارۍ هوکړهلیک لاسـلیک شـو. د یاد وزارت د معلوماتـو له مخې، یاده او ۹۸۴ ډالره به له بې ځایه شـویو، راستنو شویو او کوربه ټولنو سره د هېواد پـه ۳۰ ولایتونو کې، چې عبارت دي ... ۳مخ

غزه کې ۳ اسرائیلي عسکر وژل شوي

د صهیونیستي رژیم پوځ اعلان کـړی، چې د غـزې ترانګې په شـمال کـې یـې درې اسرائیلي عسـکر وژل شـوي او یـو بل سـخت ټپي دی. د ټپي عسـکر حالت نازک ښـودل شوی دی.
دا اسرائیلي عسکر په یوه ټانک کې د چاودنې له امله وژل شوي دي. که څه هـم د اسرائیلي رژیم پوځ د غزې په جګړه کې د خپلو وژل شویو عسـکرو شمېر ډېر کم ښیي او یا یې رسمي شمېرې نه خپروي، خو د راپورونو له مخې تر دې مهاله سلګونه صهیونیستي عسکر وژل شوي ... ۳مخ

د سالنګ لارې پر ۳ مهمو برخو کار روان دی

د سـالنګ لویـه لاره، چـې د افغانسـتان د شـمال او سوېل تر منځ له مهمو ترانزیتي لارو ګڼل کېږي، دا مهال پـه درېوو برخو کې په هممهالې توګه د بیارغونې په حـال کې ده. د ټولګټو وزارت په وینا: په دې پروژه کې د شمالي سالنګ، سـویلي سـالنګ او له خنجانـه تر دوشي پـورې برخې شاملې دي چې اوسمهال، په سویلي سالنګ کې د کانکریټ اچولو او له خنجانه تر دوشي پورې د کرېږ کولو چارې روانې دي او په شمالي سـالنګ کې هـم، د کانکریټ اچونې لپـاره د چمتووالي کار پیل شوی دی. د ټولګټو وزارت ویاند، محمد اشرف حقشـناس په دې برخه کې وایي: په سویلي سالنګ کې عملاً د کانکریټ اچولو کار روان دی، چـې په نـږدې درېوو ګالریو کې کانکریټ بشپړ شوی دی. د ګالریو ترمنځ واټن کې هم کانکریـټ پیل شـوی دی. ورته وخت کـې د خنجـان او دوشي ترمنځ اسفالت دوام لري ... ۳مخ

۸۰۰ سرتېرو پوځي عقیدتي او مسلکي زده کړې بشپړې کړې

د هېواد د ۲۰۷ الفاروق قول اردو له ښوونیز مرکز څخه د ملي او اسلامي اردو ۸۰۰ سرتېري له درې میاشـتنیو پوځي، عقیدتي او مسلکي زده کړو فارغ شـول. د ملي دفاع وزارت یوه پـلاوي چې مشري یـې مولوي تاج محمد رهبر، مولوي نصرالله مطیع، د ۲۰۷ الفاروق قول اردو قوماندان، د قول اردو لوی درستیز مولوي محمد منصور جاوید او یو شمېر مسئولینو کوله، فارغو شـویو سرتېرو ته یې وویل، چې ملي اسـلامي پوځ د دې هېواد یوه ارزښـتناکه شـتمني ده، خو هڅه وکړئ چـې د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشـپړتیا او په هېواد کې د امنیت د تامینولو لپاره په قوي ایمان او مسـئولیت سره عمل وکړئ او د ملي دفـاع وزارت مشرتابه د هېواد د وسـلوالو ځواکونـو د ظرفیت د ودې او لوړولـو لپـاره د دوامدارو روزنیـزو پروګرامونـو پیلولـو ته ژمن دی.
د یادونـې وړ ده، چې فارغ شـوي سرتېري بـه د هېـواد د امنیت او د خلکو د هوسـاینې لپـاره پر دندو وګومارل شي.

د عامې روغتیا وزارت لسګونه ټنه غیرالکولي مشروبات له منځه یووړل

د هېـواد بازارونـه لـه کلونو راهیسې بې کیفیته، تقلبي او له سـتنډرډونو بې برخې وو، چې دې ستونزې د خلکو پر روغتیا او اقتصاد باندې بده اغېزه کړې وه. هېـوادوال وایـي، چـې د اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم دا سـتونزه د دولت د مهمو لومړیتوبونـو لـه جملې څخه ګڼل شـوې او په دې برخه کې پراخ اقدامات ترسره شوي دي. ورمـه ورځ د خوړو او درملو معینیـت د څارنـې او ارزونې ټیمونو په کابل ښـار کې له ۶۵ ټنو څخـه زیات غیـر الکولي مشروبات د رسـنیو په حضور کې لـه منځه یـووړل. د خوړو او درملو معینیت استازي ډاکټر جاوید هڅیـر د هېواد ورځپاڼې خبریال ته ویـلي چې د ۱۴۰۴ل کال له شروع څخه تر دې مهاله د کابل ښـار بېلا بېلو سیمو کې له ۱۴۰ ټنو څخه زیات مختلف خوراکـي توکـي او درمـل له منځه وړل شـوي دي. د خوړو او درملـو معینیـت د خوړو او خوندیتوب عمومي مدیر ښاغلي رحیمي ویلي: چـې د خوړو او درملو معینیت یوه اسـاسي دنده

داده، چـې د خوراکـي توکو د کیفیت څارنه کوي، له بازارنو، فابریکو، ګودامونو ... ۳مخ

اوچا او یونیسف راستنېدونکو افغان کډوالو ته د هر اړخیز ملاتړ ډاډ ورکړ

د افغانسـتان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر رئیسي او د یونیسف رئیسې د بامیانو له والي سره پـه کتنه کې په دغه ولایت کې راستنېدونکو افغانانو ته د زده کړو او ټولنیـزو خدماتـو د برابرولو په برخو کې له خپل هر اړخیز ملاتړه ډاډ ورکـړی دی. پـه دې کتنه کې د بامیانو والي مولوي عبدالله سرحدي ویلي، چې راستنېدونکو افغانانو ته د ژوند د لومړنیو اسانتیاوو د برابرولو پـه موخه ټولې تابیاوې نیول شـوي او په دې برخه کې د اندېښـنې خبره نشـته. ده دغه راز د بامیانو په مرکز کې راسـتنېدونکو افغانانو ته د یوه ښـارګوټي د جوړولـو خـبر ورکړ او زیاته یې کړه چـې ډېر ژر به له ګاونډیو هېوادونو راستنېدونکو ته د نمرو د وېش لړۍ هم پیل شي.

فراه کې د بارورونکو موټرو لپاره تله ولګول شوه

د فراه پـه فراهرود ولسـوالۍ کې د څه بانـدې ۳ میلیونـو افغانیو په لګښـت د بارورونکو موټرو لپاره تله نصب او فعاله شـوه. د فراهرود ولسـوال ملا محمد صادق جهادمل فعاله شوه. د نوموړي په وینا، د یادې تلې د نصب چارې د درېوو میاشـتو په موده کې بشـپړې شوې، چې ور سره بـه د کندهار، هـرات او فراه د بـار وړونکو موټـرو د لوړ وزن

باختر اطلاعـاتي آژانس ته ویلي چې د دغې ولسـوالۍ په دوه لارې سیمه کـې د بارورونکـو موټـرو د وزن د کنټـرول په موخـه د ۳.۲ میلیونو افغانیو په لګښـت یوه تله نصب او مخنیوی او کنټرول وشي.
د یادونـې وړ ده، چې له دې وړاندې هم په دغه ولایت کې د بارورونکو موټرو د بار د کنټرول لپاره یو شمېر تلې نصب او فعالې شوې دي.

د امریکا په ټکزاس ایالت کې سېلابونه؛ تر دې مهاله ۱۳۱ تنه مړه شوي

د رویټرز د راپور له مخې د امریکا په ټکـزاس ایالت کې د سـېلابونو او توپانونو له امله ۱۳۱ کسـان مړه ګواښ له امله د پلټنو عملیات هم درول شـوي دي. د ټکـزاس والي ګریګ ایبټ ورمه ورځ ویلي، چې

او ۹۷ نور لادرکه شـوي دي. ځایي چارواکو پرون له سـختو سېلابونو لس ورځې وروسـته یو ځـل بیا د زیاتو بارانونو او توپانونو خبرداری ورکړی دی. سربېره پر دې د ټکزاس په ځینو سـیمو کې د سـېلابونو د د جولای له ۴مې راهیسې د توپانونو له امله ۱۳۱ کسـان مړه شوي او ۹۷ نور لا هم ورک دي. د راپورونو له مخې له ټولو ډېر ځاني تلفات په کر کاونټي سـیمه کې اوښتي، چې ډېر یې ماشومان دي.

د افغان کرېکټ ملي لوبډلې ګڼو لوبغاړو د مطیع‌الله تراب پر مړینه خواشیني ښودلې

د افغان کرېکټ مـلي لوبډلې ګڼو لوبغاړو د پښـتو ژبې د مشهور ملي حماسي شـاعر مطیع الله تراب پر مړینـه ژوره خواشـیني څرګنـده کړې ده. مرحوم ته یې د ښښـنې او جنت‌الفردوس دعا کړې او کورنۍ، دوسـتانو او د ادب مینه‌والو ته یې تسلیت وړاندې کړی دی.
محمد نبي عیسـی خېل په ټولنیزو رسـنیو کې لیکلي: «د قدرمن ولسي شـاعر مطیع الله تـراب د ناڅاپي مړینې خبر سخت وردرولم.»
راشـد خان بیا د ښـاغلي تـراب له کورنـۍ سره په دې غـم کې ځان شریک ګڼلـی او ویلي یې دي: «په ډېرې خواشینۍ سره مو د خوږ ژبي ولـسي او انقلابي شـاعر مطیع الله تراب د ناڅاپي مړینې خبر ترلاسـه کړ او سخت یې خواشینی کړم.»
رحمان‌اللـه ګربـز د خواشـینۍ څرګندولو تر څنګ لیکلي: «تراب صیب! سـتا ډېرې خاطـرې راسره دي، چې تل به سـتا یادونه راته تازه کوي.»
حشمت‌الله شهیدي خپل تاثر داسي لیکلـی: «مطیع‌الله تراب د پښـتو ادب ته ډېر خدمت کړی ، اشـعار یې د سولې او مینې پیغام لري او یاد به یې تلپاتې وي.»
ابراهیم ځدراڼ د سختې خواشینۍ څرګندولو تـر څنـګ مطیع‌الله تراب ته د ښښـنې او د هغه کورنۍ، دوسـتانو او خواخوږو ته د زړه د صبر دعا کړې ده.
عظمت‌الله عمرزي بیا په خپل تاثر کې لیکلي: «د مطیع‌الله تراب خبرو زموږ درد، ویاړ او زموږ مقاومت ته غږ ورکړ. هغه نه یوازې یو شـاعر و، بلکې یو حقیقـت ویونکی و، چې شعرونه یې ... ۳مخ

اطلاعیه وزارت اطلاعات و فرهنګ

موضـوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسـیله به تأسـی از فقره ۲ مـاده ٤۳ قانـون تـدارکات به اطـلاع عموم رسـانیده می شـود. وزارت اطلاعـات و فرهنـگ در نظر دارد، قرارداد اعمار سـاختمان موزیم محلی، دیـوار احاطـوی و پیاده رو ریاسـت اطلاعات و فرهنگ ولایـت سـمنگان برای سـال مالی ١٤٠٤ با شـماره تشخیصیه MOIC/W-1/NCB/1404 را به شرکت ساختمانی سرکسازی و تولید مواد سـاختمانی صمیم سـلطانی کـه دارای جواز نمبر (۳٥٤۲۸) می باشـد به بقیمت مجموعی مبلغ/ ۲۳٥۹۱٥۰- دو میلیون و سـه صدوپنجاه و نُه هزارو یکصدو پنجـاه افغانی اعطا نماید.
اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه هرگونـه اعـتراض در زمینه داشته باشـند، می توانند اعـتراض خویـش را از تاریخ نشر اعلان الـی ۷ روز تقویمی طور کتبی توأم بـا دلایل آن را بـه معینیت گرځنـدوی، مالی و اداری، آمریـت تـدارکات واقـع چهاراهی ملـک اصغر روبروی وزارت امور خارجه، وزارت اطلاعـات و فرهنـگ وفق احکام مـاده پنجاه قانون تدارکات ارائه نمایند.
ایـن اطلاعیـه به معنـی عقد قرارداد نبـوده و الـی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونـی بعدی، قـرارداد منعقد نخواهند شد.